# ابادي اوونیزه

هفته‌نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۴۴ | مسلسل نمبر: ۸۶

شنبه، د شعبان المعظم ۱٦مه، ۱۴۴٦ هـ.ق کال




## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د قطر هېواد له رئیس الوزراء سره وکتل



۲ صفحه

## د کورنیو تولیداتو پر وده د ګمرکي تعرفې اغېزې



۳ مه صفحه

## The Role of Small and Medium Enterprises in the National Economy



۵مه صفحه



## سرلیکنه

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند قطر هېواد ته د خپل سفر په ترڅ کې د سلواغې میاشتې په ۲۵مه نېټه د قطر هېواد له رئیس الوزراء ښاغلي محمد بن عبدالرحمن آل ثاني سره په کتنه کې د افغانستان او قطر هېواد ترمنځ د اړیکو او اقتصادي مسائلو او د حکومت او خصوصي سکتور له لوري د پانګونې د موضوعاتو په اړه خبر اترې وکړې.

افغانستان چې په سیمه کې یو مهم اقتصادي او ترانزیټي مرکز بلل کیږي، د ګاونډیو هېوادونو ترڅنګ د سیمې هېوادونو سره د اقتصادي همکاریو پراخولو له لارې کولای شي خپل اقتصادي ثبات پیاوړی او غښتلی کړي. دا مهال په افغانستان کې ځینې اقتصادي پرمختګونه رامنځته شوي دي، خو اړتیا ده چې د هېواد اقتصاد په بشپړ ډول په پښو ودریږي. د دې له پاره تر ټولو مهمه داده چې بهرنۍ پانګه راجلب شي. لامل یې دادی چې ډېره پانګونه د اقتصاد د پرمختګ او غوړېدو په مانا ده او دا چې د مخ پر ودې هېوادونو په کور د ننه پانګه کمه ده او یا هم د چټکې اقتصادي ودې لپاره بسنه نه کوي، څکه خو باید د یاد هدف د ترلاسه کولو په خاطر د بهرنۍ پانګونې څخه ګټه واخیستل شي. بهرنۍ پانګونه د یوه هېواد په اقتصادي وده کې مرسته، بهرنۍ پانګه په کوربه هېواد کې ګڼ کاري فرصتونه رامنځته کوي او د بې کارۍ کچه راټیټوي، یاد هېواد ته نوې ټیکنالوژۍ او مسلکي بشري قوه لېږدوي، د کارګرو د تولید کچه زیاتوي چې دا د سوداګرۍ د ودې لامل ګرځي. کله چې دا ټول رامنځته شي، نو بیا د خلکو د ژوند کچه لوړیږي، اقتصادي پراختیا رامنځته کېږي او په پایله کې د اقتصادي ټیکاو پر رامنځته کېدو تماميږي.

د قطر هېواد یو پرمختللی او بډای هېواد دی. که چیرې د قطر هېواد پانګوال په هېواد کې پانګونه وکړي، نو افغانستان ته به زیاته اندازه پانګه راجلب شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د قطر هېواد رئیس الوزراء د خبرو اترو چوړلیز هم د اقتصادي مسایلو ترڅنګ د حکومت او خصوصي سکتور له لوري د پانګونې پر موضوع راڅرخېده. اسلامي امارت هڅه کوي هېواد ته بهرنۍ پانګونه را جلب کړي او پرمټ یې لکه د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر خپلې زیربناوې جوړې او اقتصادي وده پیاوړې او غښتلې کړي.

# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د قطر هېواد له رئيس الوزراء سره وکتل



د ۱.۱.۱ د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند قطر هېواد ته د خپل سفر په ترڅ کې د سلواغې مياشتې په ۲۵ مه نېټه د قطر هېواد له رئيس الوزراء شاغلي محمد بن عبدالرحمن آل ثاني سره وکتل.

په دې کتنه کې د افغانستان او قطر هېواد ترمنځ د اړيکو او اقتصادي مسائلو او د حکومت او خصوصي سکتور له لوري د پانګونې د موضوعاتو په اړه بحث وشو.

## اخبار اقتصادی هفته

### قرارداد ساخت سرک لوگر- میدان وردک به ارزش ۷۱۳ میلیون افغانی امضاء شد

قرارداد ساخت وساز سرک لوگر-میدان وردک به ارزش ۷۱۳ میلیون افغانی با دو شرکت داخلی امضاء شده است. وزارت فواید عامه می‌گوید که این سرک بیش از ۳۱ کیلومتر طول دارد و قرار است کار ساخت وساز آن در ۱۶ ماه تکمیل شود. محمد اشرف حق شناس سخن‌گوی این وزارت، می‌افزاید که این سرک از دره تنگی در ولایت میدان وردک آغاز شده و به پل علم، مرکز ولایت لوگر وصل می‌شود. آقای حق‌شناس در این باره گفت: «این پروژه دو بخش دارد که بخش اول آن ۱۷,۴ کیلومتر و بخش دوم آن ۱۴,۲ کیلومتر طول دارد. این سرک از دره تنگی، قریه قلعه امیر در ولایت میدان وردک آغاز شده و با گذر از مسیرهای الوزی، دوغ‌آباد، شلک و بابوس به پل علم، مرکز ولایت لوگر وصل می‌شود.» با این حال، برخی از رانندگان ساخت‌وساز این مسیر را برای افزایش سهولت در رفت‌وآمد مهم می‌دانند.

### پیش‌رفت ۸۷ درصدی فاز دوم کانال قوش تیپه

شرکت انکشاف ملی می‌گوید که کار کندن‌کاری فاز دوم کانال قوش تیپه ۸۷ درصد تکمیل شده و همچنان ساخت و ساز سربند این کانال به ۷۵ درصد رسیده است. به گفته‌ی مسوولان این شرکت، آنان کارهای این کانال را برابر با معیارهای جهانی مهندسی به پیش می‌برند. نبی‌الله ارغندیوال سخن‌گوی شرکت انکشاف ملی در این‌باره گفت: «کارهای کانال قوش تیپه اکنون با سرعت و مطابق معیارهای جهانی مهندسی در بخش های مختلف جریان دارد. در حال حاضر، فاز دوم کندن کاری این کانال ۸۷ درصد و ساخت سربند آن ۷۵ درصد پیش رفته است.» اتاق زراعت و مالداری ساخت این کانال را گامی اساسی در جهت خودبسندگی افغانستان در بخش زراعت می‌داند. میرویس حاجی زاده معاون اتاق زراعت و مالداری اظهار داشت: «کانال قوش تیپه زمین‌های حاصل خیز زیادی دارد که اگر به درستی مورد استفاده قرار گیرد، می‌توانیم در بخش تولید گندم و برنج به خودکفایی برسیم.»

### معدن سنگ مرمر قندهار برای ۳۰ سال به شرکتی از ترکیه داده شد

وزارت معادن و پترولیم قرارداد استخراج معدن سنگ مرمر دره‌نور ولسوالی شاه‌ولی‌کوت قندهار را با یک شرکت ترکی به ارزش شش اعشاریه دو میلیون دالر امضاء کرد. هدایت‌الله بدری سرپرست وزارت معادن و پترولیم در برنامه‌ای که به همین مناسبت برگزار شده بود، گفته است که این قرارداد زمینه اشتغال را برای صدها نفر فراهم می‌سازد و این شرکت همچنان متعهد به ارایه خدمات اجتماعی به مردم محلی است. این معدن با مساحت سه کیلومترمربع برای ۳۰ سال به این شرکت واگذار شده است. در حال حاضر ترکمنستان یکی از بزرگ ترین خریداران سنگ مرمر افغانستان به‌شمار می‌رود. آمارهای وزارت صنعت و تجارت نشان می‌دهند که در سراسر کشور ۱۰۸ کارخانه پروسس سنگ مرمر فعال هستند.

## صادرات ۱۱ میلیون دالری میوه خشـــک از خوست به کشورهای خارجی

مســـوولان اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری خوست می گویند که در ســـال جاری خورشـــیدی، به ارزش ۱۱ میلیون دالر امریکایی میوه خشـــک از این ولایت به خارج از کشور صادر شده است. به گفته مسوولان، افزون بر جلغوزه، پســـته و بـــادام، ۱۷ نوع دیگر از میوه‌های خشک نیز شامل این صادرات بوده است. نواب امیرزی رییس اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری خوســـت گفت: «مجموع صادرات به ۴ هزار و ۵۰۰ تُن رسیده که نسبت به گذشته افزایش خوبی داشته اســـت، اما ما همچنان تلاش می‌کنیم که افغانستان به یک کشور بزرگ صادراتی تبدیل شود.» این در حالی اســـت که وزارت صنعت و تجارت افغانســـتان گفتـــه بـــود کـــه در ۱۰ ماه گذشـــته ســـال جاری خورشـــیدی، صادرات میوه خشک کشـــور به ۳۵۰ میلیون دالر امریکایی رسیده است.





## د کورنیو تولیداتو پر وده د گمرکي تعرفې اغیزې

قیس احمد

### سریزه

کورني تولیدات د یو هېواد له اقتصادي ودې سره مستقیمه مرسته کوي. دا د هغه توکو، محصولاتو او خدماتو مجموعه ده چـــې ټول په هېواد کې دننه د موجـــودو فعالو شرکتونو، فابریکـــو او خلکو له لوري تولیـــد او وړاندې کېږي. د یادو تولیداتـــو د تولید پر مهال له داخلي منابعو څخه اســـتفاده کېـــږي. د کورنیو تولیداتو د زیاتوالي په صورت کې مختلف اقتصادي فعالیتونه لکه تولید، د محصولاتو راټولول، توزیع، د خدماتو وړاندې کول، د پانګونې جذب او نور... رامنځته کېږي.

څومره چې د دې تولیداتو کیفیت ښه او کمیت یې زیات وي، په هماغه اندازه د هېواد له اقتصادي ودې سره مؤثره مرسته کولی شي. خو دغه سکتور د حکومت بشپړ ملاتړ او همکارۍ ته اړتیا لري. له هغه پرته د پام وړ وده نشي کولی. له نېکه مرغه د اسلامي امارت په حاکمیت سره په افغانستان کې د کورنیو تولیداتو ســـکتور وده کړې ده. اســـلامي امارت د یاد ســـکتور د ملاتړ په موخه د نـــورو فکتورونو ترڅنګ گمرکي تعرفې ته هم ځانګړې پاملرنه کړې ده. په ټولو هغو توکو یې گمرکـــي تعرفه لوړه کړې چې هغه په کور دننه تولیدیږي او د هېوادوالو اړتیاوې پوره کولی شي. دې چارې د دغه سکتور پر فعالیتونو خورا مثبت اغېز کړی چې موږ به دې مقاله کې پرې لنډې خبرې کوو.

### د افغانستان کورني تولیدات

په افغانستان کې اوسمهال یو زیات شمېر دولتي او خصوصي تولیدي شرکتونه او فابریکـــې فعالیت لري. دغه شرکتونه او فابریکې په مختلفو برخو لکه خوراکي توکو، څښاک، لبنیاتو، درملو، ساختماني توکو، د پلاستیک صنایعو، یوشمېر کرنیزو محصولاتو او... کې تولیدات لري، چې هېواد د ۱۳۳ توکو په برخه کې ځان بســـیاینې ته نږدې شـــوی دی. یاد توکي په هېواد کې دننـــه د کورنیو اړتیاوو پوره کولـــو په موخه کارول کېـــږي چې پـــر هغه سربېره ځینـــې نـــورو هېوادونو ته هم صادرېږي.

### د کورنیو تولیداتو پر وده د گمرکي تعرفې اغېزې

گمرکي تعرفـــه هغه مالیه یـــا فیس دی چـــې د یو هېواد حکومت یې د وارداتو یا صادراتو پر وخت د مالونو او خدماتو پر سر اخلي. دا تعرفه معمولاً د دې لپاره ټاکل کېږي چې د هېـــواد داخلي بازارونه خوندي کـــړل شي، محلي صنعتونه وغوړېږي او نوي کاري فرصتونه رامنځته شي. د افغانستان اســـلامي امارت د کورنیـــو تولیداتو د ملاتـــړ او د هېواد د اقتصادي ودې په موخه پر هغو وارداتو گمرکي تعرفې لوړې کړې دي، چې هغه په کور دننه تولید او د هېوادوالو اړتیاوې پوره کولی شي. ښه بېلګه یې د مالداری په سکتور کې د

چرګانو پر غوښــو د ګمرکي تعرفې لوړوالی دی. افغانستان اوسمهال د چرګانو غوښو د تولید په برخه کې پر ځان بسیا دی. په دغه برخه کې لــه بهرنیو هېوادونو واردات صفر ته نږدې شوي. ښېګڼه او هېواد ته یې ګټه داده چې اوسمهال په ټول هېواد کې د چرګانو غوښې بیه ارزانه ده او هرڅوک یې د اخیستلو توان لري. په دغه سکتور کې په لسګونو زرو هېوادوالــو ته د کار زمینه برابره شــوې، له یو میلیارد ډالرو زیاته پانګونه په‌کې شوې او ټولټال د چرګانو فارمونو شمېر ۱۵ زرو ته رسېدلی دی.

له دې ورهاخوا اســلامي امارت په یوشمېر ساختماني توکو لکه، ګاډر، ګول ســیخ او سیمنټو هم ګمرکي تعرفې زیاتې کړې چې له مخې یې په یادو برخــو کې د کورنیو تولیداتو اندازه زیاته او کیفیت یې تر پخوا ښه شوی دی. همدا اوس په هېواد کې د اوســپنې ویلې کولو شــاوخوا ۴۰ فابریکې فعالیــت لــري، زیاته پانګونې په‌کې شــوې، ډېر شــمېر هېــوادوال ورسره پر کار بوخت دي او پر دې سربېره د ګاډر او ګول سیخ په برخو کې بهر ته صادرات هم لرو. همدې ته ورته د ســیمنټو په برخه کې د هېواد په کچه لویې تولیدي فابریکې فعالیــت لري، دوی په مختلفو کیفیت ســیمنټ تولیدوي او ټول په هېواد کې دننه په ســاختماني پروژو کې په مصرف رسېږي، چې له برکته یې د وارداتي سیمنټو بیې د پخوا په پرتله راټیټې شوې دي.

همدا راز پر لسګونو نورو توکو هم ګمرکي تعرفې لوړې شوې دي، چې له برکته یې داخلي صنعت وده کړې ده. د ګمرکي تعرفــې لوړوالي د وارداتي محصولاتــو پر وړاندې د محلي تولیداتو د سیالۍ توان زیات کړی، کیفیت یې تر پخوا ښه شوی او په کمیت کې یې هم زیاتوالی راغلی دی.

پر یوشــمېر هغــو وارداتي توکو چې په هېــواد کې دننه تولیدیــږي، د ګمرکي تعرفې د لوړوالي له امله د یادو توکو واردات تنظیم شــوي دي. ګمرکي تعرفې د وارداتو حجم کنټرولـوي او په دې توګــه حکومت کولــی شي د هغو محصولاتــو واردات محدود کړي چې هغه پــه کور دننه تولیدیږي. ځینې وخت حکومتونه د صادراتو د زیاتولو لپاره ګمرکي تعرفــې کموي. د صادراتو په برخــه کې د تعرفو کمــول د صادراتي محصولاتو په بــازار کې د رقابت وړتیا زیاتوي او د نړۍ په بازار کې د دغه هېواد د محصولاتو په



پلورلو کې مرسته کوي. اســلامي امارت دې ټکي ته پام کړی، ښه بېلګه یې بهرنیو هېوادونو ته د ګاډر او ګول سیخ پر صادراتــو د تعرفې کمــول دي. افغانســتان تېر کال شــاوخوا ۶۰ زره ټنه ګول سیخ بهر ته صادر کړي و، خو د روان ۲۰۲۵ کال لپاره به یوازې ترکمنستان ته ۱۵۰ زره ټنه ګول ســیخ صــادر کړي. کلــه چې حکومــت د وارداتي محصولاتو پر سر تعرفــې زیاتوي، دا د لوړ کیفیت لرونکو محلي تولیداتو په ترویج کې مرسته کوي. د دې له مخې که محلي تولیدات له نړیوالو معیارونو سره برابر شي، نو دا د مصرفوونکو لپاره هم ګټور دي.

پر یوشــمېر هغــو وارداتي توکــو چې په هېــواد کې دننه تولیدیږي، د ګمرکي تعرفې لوړوالي له سوداګریز توازن سره مرســته کړې ده. په ځینو مواردو کې ګمرکي تعرفې کولی شي د ځانګړو ســکټورونو او صنعتــي برخو ملاتړ وکړي. د محــلي تولیداتو او صنعتونــو ملاتړ د ټولنــې د اوږدمهاله اقتصــادي ودې لپاره هم اړین دي. کلــه چې حکومت د ګمرکي تعرفو په مرسته د داخلي صنعتونو ملاتړ وکړي، دا د ټولنــې په اقتصادي وده کې مؤثر واقــع کېږي او د نړیوالو اقتصادي بحرانونو پر وړاندې یې مقاومت زیاتوي.

په ځینو وختونو کې حکومتونه د نړیوالو تجارتي تړونونو یا د ډیپلوماتیکو اړیکو د ټینګښت لپاره ګمرکي تعرفې کموي یا زیاتــوي. د بېلګــې په توګــه، کله چــې دوه هېوادونه یو سوداګریز تړون لاسلیک کوي، یو هېواد ممکن د بل هېواد د محصولاتو لپاره تعرفې کم کړي. اسلامي امارت دې ټکي ته پام کړی او په بېلابېلو برخو کې له مختلفو هېوادونو سره ترجیحي تعرفې لري.

## پایلــه

د افغانســتان اســلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه اساسي هڅې پیل کړې دي او په خپل ټول توان سره د دغه سکټور ملاتړ کوي. په همدې موخه یې پر ټولو هغو وارداتي توکو ګمرکي تعرفې زیاتې کړې دي چې هغه په کور دننه تولیدیږي او د هېوادوالــو اړتیاوې پوره کولی شي. له دې سره کورنیو تولیداتو د وارداتي توکو پر وړاندې د سیالۍ توان پیــدا کړی، د بهرنیــو توکو پر ځــای د کورنیو توکو استفاده زیاته شــوې، د کورنیو تولیداتو په برخه کې زیاته پانګه جذب شــوې، ګڼ شمېر هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شوي، کورني صنعت وده کړې او په مجموع کې هېواد د ۱۳۳ مختلفــو توکو په برخه کې ځان بســاینې ته نږدې شوی دی.


ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـادي او تـولنیزو مسایلـو په برخـه کـې
د ریاسـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اوونیزه اباديَ
هفته‌نامه آبـادی


# THE ROLE OF SMALL AND MEDIUM ENTERPRISES IN THE NATIONAL ECONOMY



By Zahid Khalili

Today, many countries around the world are engaged in economic competition, each striving to surpass others and dominate the global economy. In strengthening these economies, alongside large corporations, small and medium enterprises (SMEs) play a crucial role. These SMEs contribute to the expansion of a country's domestic economy and work toward increasing the Gross Domestic Product (GDP).

Small and medium enterprises constitute a significant portion of businesses worldwide and play an essential role in the growth and development of national economies. They contribute to production, trade expansion, reducing unemployment and poverty, providing services, and market development.

This article briefly introduces SMEs and examines their role in the national economy.

## Who Are Small and Medium Entrepreneurs?

In general terms, an entrepreneur is referred to as a businessperson. Businesses are typically categorized into three groups: small, medium, and large enterprises. Small and medium entrepreneurs are those business owners who have limited income, fewer assets, and a small number of employees.

The distinction between these three types of businesses is largely based on the number of employees they have. For instance, in some countries, businesses with fewer than 50 employees are classified as small enterprises. Medium enterprises, on the other hand, are those with up to 250 employees, while large enterprises have more than 250 employees. In other countries, a business with up to 100 employees is considered small, a business with up to 500 employees is considered medium, and large enterprises are those with more than 500 employees.

As mentioned earlier, there is no universally accepted definition of small, medium, and large enterprises. Instead, each country defines them based on its specific economic conditions, considering factors such as the number of employees, assets, and revenue.

Examples of small and medium enterprises include restaurants, retail shops, wholesale stores, small manufacturing units, consulting firms, healthcare service providers, and IT service providers.

SMEs play a crucial role in the economic growth and development of a country. They are distinct from large enterprises and have fundamental differences and unique characteristics that set them apart.

## The Role of Small and Medium Enterprises in the National Economy

SMEs play a vital role in strengthening and expanding a country's national economy. These enterprises form a significant part of global trade. SMEs contribute to various aspects of economic development, including Gross Domestic Product (GDP), industrial progress, unemployment reduction, innovation in businesses, and export growth.

## 1- Contribution to Gross Domestic Product (GDP)

SMEs play a crucial role in a country's GDP and economic growth. They enhance business activities, increase production, provide essential services, and boost exports. These contributions directly impact national income and drive overall economic development.



## 2- Reducing Unemployment

Unemployment is a major challenge in many countries, and governments continuously seek ways to reduce it. SMEs help mitigate unemployment crises by generating job opportunities. Globally, SMEs employ around 50% of the workforce. In many regions where large industries are not available, SMEs provide essential employment opportunities. They play a key role in reducing rural unemployment and curbing migration in developing and underdeveloped countries.

## 3- Role in Industrial Development

SMEs significantly contribute to a country's industrial growth. They support large industries by supplying raw materials and essential components. Many major businesses rely on SMEs to sustain their operations. SMEs also facilitate the distribution of industrial products to markets, ensuring the continuity of large-scale manufacturing. Moreover, they bridge the gap between large enterprises and consumers by delivering their services and products effectively.

## Conclusion

SMEs serve as the backbone of a country's economy, fostering growth and ensuring economic stability. They play a pivotal role in GDP contribution, unemployment reduction, and poverty alleviation. Additionally, SMEs complement large businesses by acting as intermediaries, making their services and products accessible to the general public.



## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۳,۵۰؋ | ۷۳,۵۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانۍ کلدارې | ۲۵٤؋ | ۲۵٤؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۳۳؋ | ۱,۳۳؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۷,۱٦؋ | ۷۷,۲۱؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۸۱؋ | ۰,۸۱؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸٤۸؋ | ۸٤۹؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۹۲,۵۹؋ | ۹۲,٦۵؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۹,٦۰؋ | ۱۹,٦۱؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۲۰,۰۱؋ | ۲۰,۰۲؋ |
| ۱ | چيني ين | ۱۰,۱۳؋ | ۱۰,۱٤؋ |

